# د پناه غوښتوونکو د کمپ مقررات

تاسو باید د پناه غوښتوونکو د کمپ د اوسېدونکي په توګه د کمپ مقررات مراعت کړئ. یاد مقررات د دې لپاره چمتو شوي دي چې تاسو او په کمپ کې مېشت کسان د ژوند کولو لپاره خوندي او ښه چاپېریال ولري.

۱. نظم، آرامي او خونديتوب

- په کمپ کې باید د شپې له ۱۱ بجو څخه د سهار تر ۶ بجو پورې آرامي وي.
- تاسو باید نورو ته مزاحمت ونکړئ او له نورو سره داسې چلند ونکړئ چې د هغوی د نا آرامی سبب شي. د ورانکارۍ یا نورو جنایي مسئلو په اړه د کډوالو د چارو ادارې (UDI) او پولیسو ته خبر ورکول کېږي.
- د کمپ په شریکو ځایونو کې شراب څښل منع دي.
- تاسو باید په شریکو ځایونو یا په خپله خونه (کوټه) کې له سګرټ، چلم یا برېښنايي (برقي) سګرټو له څښلو ډډه وکړئ.
- په کمپ کې د کورنیو حیواناتو ساتل منع دي.
- تاسو باید دا زده کړئ چې په کمپ کې د کړکېچ یا اورلګېدنې پر مهال څه وکړئ.

## ۲. د خونو (کوټو) او سامان کارول

- تاسو باید شریکې کوټې او بهر ساحه پاکه او منظمه وساتئ. بایسکلونه، د ماشومانو رکشې او نور وسایل باید د ټېنټې لارې بندې نکړي.
- تاسو باید خپله کوټه پاکه او منظمه وساتئ.
- تاسو باید کثافات جلا او د کثافاتو غورځولو په ځایونو کې وغورځوئ.
- تاسو باید شریکې کوټې په منظمه توګه ومینځئ. د دې لپاره یو لیست جوړ شوی دی کوم چې ښيي چې ستاسو وار به څه وخت وي. کله چې ستاسو وار وي باید شریکې کوټې ومینځئ.
- تاسو باید د کالیو مینځلو ماشینونه، د پخلنځي او مینځلو توکي د یادو توکو د کارولو له لارښوونو سره سم وکاروئ.

## ۳. د شپې تیرولو مېلمانه

- تاسو باید په دې اړه له کمپ څخه اجازه واخلئ چې آیا مېلمانه مو په کمپ کې شپه تیرولای شي او که نه.
- د کمپ کارکوونکي کولای شي مېلمنو ته د شپې تیرولو اجازه ورنکړي.
- هر څوک چې له تاسو سره د شپې پاتې کېږي باید په ناروې کې مېشت او د کمپ کارکوونکو ته د هویت معتبر اسناد یا د پناه غوښتوونکو کارت وښيي.
- کله چې تاسو د شپې لخوا مېلمانه لرئ باید د کمپ نورو اوسېدونکو ته پاملرنه وکړئ.
- تاسو مسؤلیت لرئ چې خپلو مېلمنو ته خواړه او د خوب د ځای توکي پخپله چمتو کړئ.
- په کمپ کې د مېشتو لویانو اولادونه، ملګري او په نورو کمپونو کې یې د کورنۍ غړي کولای شي له دوی سره په کمپ کې شپه تیره کړي.
- له ۱۸ کلونو څخه د کم عمر لرونکو ماشومانو مور او پلار، خوېندې او ورونه او همزولي ملګري کولای شي له دوی سره په کمپ کې شپه تیره شي.

## ۴. کډه کول

- مخکې له دې چې کډه وکړئ باید خپله کوټه یا اپارتمان په ښه توګه ومینځئ او منظم یې کړئ.
- کله چې تاسو کډه کوئ باید خپلې کیلې ګانې بیرته وسپارئ.

_______________
نېټه

_______________
لاسلیک